**۱۴ اکتوبر ۲۰۰۸**

**د امنیت شورا SC/9472**

د عامه معلوماتو دفتر، د خبرونو او رسنیو څانګه، نیویارک د امنیت شورا ۵۹۹۴ غونډه (د غرمې مخکې)

## د افغانستان د خرابېدونکي وضعیت د راګرځولو لپاره پر مثبتو بهیرونو تکیه وکړئ،

## د سرمنشي ځانګړي استازي امنیت شورا ته وویل

*هغه د هغو کسانو "ناهیلي کوونکې او بدګمانۍ انځور وړاندې کوونکې" څرګندونې یې بې ګټې وبللې چې له هېواد سره بلد نه دي*

په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د سرمنشي ځانګړي استازي کای ایده نن سهار امنیت شورا ته وویل چې د افغانستان د خرابېدونکي امنیتي وضعیت د کابو کولو لپاره اړتیا ده چې په هېواد کې پر مثبت سیاسي رجحاناتو باندي تکیه وشي.

ښاغلي ایده، د موضوع په اړه له پرانیستې مناظرې څخه مخکې د معلوماتو ورکولو پر مهال، ټینګار وکړ چې: "د ناهیلۍ او بدګمانۍ څرګندونې" چې ډېری یې د هغو کسانو له خوا بیانېږي کوم چې لا په افغانستان کې پښه هم نه ده ایښې، ګټورې نه دي. ده وویل، که څه هم د جولای او اګست میاشتې له ۲۰۰۲ کال راهیسې د امنیتي پېښو تر ټولو لوړه شمېره خپل کړې، بغاوت اوس د پلازمېنې کابل شاوخوا ولایتونو ته هم غځېدلی دی، بریدونه مرګوني شوي دي او د بشري فعالیتونو کارکوونکي په زیاتېدونکي ډول سره په نښه کېږي.

خو دی همدارنګه څرګنده کړه چې له پاکستان سره د افغانستان اړیکې ښې شوې دي او وروستي سیاسي بدلونونه، په ځانګړي ډول د کورنیو چارو او کرنې په وزارتونو کې بدلونونه، کیدای شي ډېر مهم تمام شي. سربېره پر دې، د راتلونکو ټاکنو بهیر یوه اوونۍ مخکې پیل شوی او د رایه‌ورکوونکو د نوم‌لیکنې ۹۰ سلنه مرکزونه پرانیستي شوي دي. د کوکنارو د ناقانونه کرکېلې د سیمو په محدودولو کې هم پرمختګ ترسره شوی دی.

هغه وویل: "که له دغو مثبتو بهیرونو څخه ښه ګټه واخیستل شي، اوسنی منفي چاپېریال به په زیات باور بدل شي." ده له مرسته‌کوونکو وغوښتل چې د جون په میاشت د پاریس په کنفرانس کې خپل ترسره ژمنې پوره کړي، په ځانګړي ډول هغه ژمنې چې د خوړو د نړیوال بحران د اغېزو د کمولو له هڅو سره تړاو لري.

ښاغلي ایده، چې په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د مرستندویه پلاوي، یوناما، مشري هم کوي، د پلاوي د کارکوونکو او بودجې د زیاتوالي غوښتنه وکړه او ټینګار یې وکړ چې د شمېر په پرتله د کارکوونکو کیفیت ورته ډېر مهم دی. یوناما د مرستو د اغېزمنتیا او کرنې په برخو کې متخصصینو ته اړتیا لري. له نړیوال سوله ساتي ځواک، ایساف، سره اوس ښه همغږي رامنځته شوی دی، د ټاکنیزو مرستو چارې پر سم مسیر رواني دي، او د ادارو د پیاوړتیا، د ملکي خدمتونو د اغېزمنتیا، د نوو وزیرانو د ملاتړ او په نورو برخو کې د هدفمند

مرستو لپاره د سلا مشورې غوره تګلاره جوړه شوې ده. خو د پاریس له ژمنو سره په مستقیم تړاو د بېلابېلو معیارونو له مخې د مرستو د اغېزمنتیا د اندازه کولو میکانیزم ته اړتیا شته.

له معلوماتي وینا وروسته د افغانستان استازي ومنله چې د نړیوال ائتلاف د ځواکونو او افغانانو د سخت کار سره سره، ترهګري بیا د لا زیات ډېرېدو په حال کې ښکاري. طالبانو ښوونځي وسوځول، د بیارغونې مخه یې ونیوله او ملکي وګړي یې وژل. هغوی نړیوالې بشري مرستې ځنډولې او عادي خلک یې په زیاتېدونکي ډول سره په نښه کړي دي. طالبان د ذهنې جګړه کوي او داسې ستر بریدونه ترسره کوي چې رسنۍ یې په خورا اسانۍ سره خپورولای شي. نو په رسنیو او نړیوالو فورمونو کې د جګړې چې کوم انځور وړاندې کېږي مهم و، هسې نه چې ترهګر بریالي شي.

هغه وویل: «په افغانستان کې د پرمختګ لاره دا ده چې ومنو چې پرېښودل او ناکامي حل لارې نه دي. باید دا ناسمه مناظره بنده کړو چې ایا ناکامېږو او که نه، پر ځای یې باید پر سم پوښتنو باندې تمرکز وکړو، یعنې څنګه بریالي کېدای شو. بریاوې باید لږ ونه ګڼل شي. له ۲۰۰۱ کال راپدیخوا د افغانستان ناخالص داخلې تولید درې برابره شوی او د هېواد په دوو برخو کې جګړه نشته. نړیواله ټولنه باید د بریا ګڼې کیسې زیات راپور کړي او د طالبانو ورانکاري او وحشت باید په پراخه کچه خپاره شي.

ده زیاته کړه چې د ترهګریزو فعالیتونو د مخنیوي لپاره د نړیوالو ځواکونو زیاتوالی یو اړین لومړی ګام دی. خو دغه ځواکونه باید له دښمن سره د مقابلې او عملیاتو ته هم چمتو وي او عملیات په بشپړه توګه ترسره کړي. هغوی باید د ملکي تلفاتو موضوع په مسؤلانه ډول سره وڅېړي. امنیت یوازې پوځي امنیت نه دی؛ ریښتینی امنیت هغه مهال ثابت کیدای شي چې د افغانانو ورځنۍ ژوند ښه شي.

د پاکستان استازي وویل چې د افغانستان ننګونو ته چټک حل لاره نشته او دوامدارې نړیوالې همکارۍ ته اړتیا لري. د پخلاینې، امنیت، مخدره توکو، حکومتولۍ او پراختیا د پېچلو ستونزو د حل لپاره داسې ربښتینې هر اړخیزه تګلاره پکار ده چې مالکیت یې د افغان ولس په لاس کې وي.

د امنیت په اړه ده وویل چې د سرمنشي راپور د پولې هاخوا موضوع ته تنګ نظر وړاندې کوي. د ترهګرۍ ضد مبارزه کې د پاکستان د رول له امله د هغه هېواد امنیتي چاپېریال سخت خراب شوی دی. نوی دیموکراتیک حکومت د افراطیت او ترهګرۍ پر ضد د یوې نوې هر اړخیزې تګلارې په مټ د ترهګرو د ماتولو لپاره ملي اجماع جوړوي چې دغه تګلاره سیاسي خبرې اترې او ټولنیز-اقتصادي تدابیر کاروي، خو د اړتیا پر مهال د ځواک د کارولو انتخاب هم ځان ته ساتلي دي.

ده وویل، پاکستان له افغانستان او نړیوالو ځواکونو سره د ترهګرۍ د له منځه وړلو لپاره کار کولو ته ژمن دی، خو د دواړو هېوادونو حاکمیت او ځمکنۍ بشپړتیا ته د درناوي او ښه نیت پر بنسټ متقابلې همکارۍ تمه هم لري. بهرنیو ځواکونو ته به اجازه ورنه کړل شي چې د پاکستان دننه عملیات وکړي خو پاکستان د دواړو هېوادونو ترمنځ د خبرو او همکارۍ د لارو د پیاوړتیا په مقصد، د روان نوښتونو هرکلی کوي.

زیات شمېر ویناوالو له ښاغلي ایده سره موافقه وکړه چې باید د افغانستان دننه او د افغانستان او پاکستان ترمنځ پر سیاسي پرمختګ تکیه وشي او د پاریس د کنفرانس منل شوې تګلارې عملي شي. ډېرو د ملکي تلفاتو د مخنیوي لپاره د دوامدار احتیاط غوښتنه وکړه،

سره له دې چې د ملکي وګړو ډېرى مرګ ژوبله د ياغيانو بريدونو ته منسوب کړل. ډېرو د پراخې ملي پخلاينې ملاتړ وکړ، خو ځينو په ځانګړې ډول سره يادونه وکړل چې جهادي عناصر بايد په خبرو اترو کې شامل نه شي. د فرانسې استازي، د اروپايي ټولنې په استازيتوب، ټينګار وکړ چې له ترهګرو سره بايد «تر پايه» مبارزه وشي.

په نننۍ ناسته کې د ايټاليا، ليبيا، متحده ايالاتو، بلجيم، اندونيزيا، ويتنام، بريتانيا، بورکينا فاسو، سويلي افريقا، کروشيا، د روسيې فدراسيون، پاناما، کوستاريکا، چين، هند، جاپان، ايران، هالنډ، جرمني او ناروې استازو هم خبرې وکړې.

غونډه د سهار په ۱۰:۱۵ بجو پيل او د ماسپښين په ۱:۴۰ بجو پای ته ورسېده.

## شاليد

د شورا د غړو مخې ته د افغانستان د وضعيت او پر نړيوالې سولې او امنيت د هغه د اغېزو په اړه د سرمنشي راپور (A/63/372-S/2008/617) پروت و. راپور د مخکيني راپور (A/62/722-S/2008/159؛ د مارچ د مياشتې ۱۲نېټې، SC/9274 مطبوعاتي اعلاميه) له خپرېدو وروسته تازه پرمختګونه يادوي.

راپور د دولت ضد عناصرو د بريدونو زياتوالي ته اشاره کوي چې وضعيت يې خورا ستونزمن کړی او ملکي تلفات يې زيات کړي دي. دغه تلفات نه يوازې د ترهګريزو بريدونو، بلکې د «دولت پلوه ځواکونو د عملياتو د غير عمدې پايلو» له امله هم رامنځته شوي دي. سره له دې، د رايه‌ورکوونکو د نوم‌ليکنې چمتووالی او د مخدره توکو پر ضد هڅې هم پرمختګ کړي دی، د کوکنارو له کرکېلې څخه د پاک شويو ولايتونو شمېر له ۱۳ څخه ۱۸ ته لوړ شوی دی.

راپور يادونه کوي چې د جون د مياشتې په ۱۲نېټه د افغانستان د ملاتړ په موخه د پاريس کنفرانس د افغانستان ملي پراختيايي تګلاره پيل کړه او ګډونوالو د هېواد د پراختيا لپاره ۲،۱۴ ميليارد امريکايي ډالر ژمنه وکړه. تګلاره حکومت او نړيوالې ټولنې ته د افغان ولس د امنيت او سوکالۍ لپاره د راتلونکو هڅو لار نقشه چمتو کړي دی. د ژمنه شويو پيسو د لازم اغېزې لپاره به د ادارو د جوړولو پراخو هڅو او د حکومتولۍ د جدي نيمګړتياوو د حل لپاره پرېکنده اقداماتو ته اړتيا ولري.

د ګډې همغږۍ او څارنې بورډ، چې په ۲۰۰۶ کال کې د افغان حکومت او نړيوالې ټولنې د هڅو د يووالي لپاره جوړ شوی و، د جولای د مياشتې په ۶ نېټه او د سپتمبر د مياشتې په ۹ نېټه غونډې ترسره کړې. د ځانګړې استازي په وړانديز سره د ګډو مشورتي ډلو پر ځای درې دايمي کمېټې جوړې کړې: امنيت؛ حکومتولي، د قانون حاکميت او بشري حقونه؛ او اقتصادي او ټولنيزه پراختيا. د پاريس له کنفرانس څخه وروسته يوناما د مرسته‌کوونکو همغږي او د مرستو اغېزمنتيا پياوړې کړې دی. ماموريت د ولايتي نويو دفترونو د پرانيستلو چمتووالی نيسي، څو د خپلو ۱۷ موجودو ساحوي دفترونو د منځګړيتوب او اړيکو وړتيا نوره هم پياوړې کړي.

د سرمنشي په وينا، که څه هم راپور ګډ انځور وړاندې کوي، خو کيدای شي چې منفي رجحان د پاريس د ژمنو په عملي کولو سره بېرته راوګرځول شي. هغه ليکي: «په پای کې بريا زموږ پر دې وړتيا پورې تړلې ده چې يو سياسي تحريک رامنځته کړو، داسې سياسي هوډ چې

هغه برخې حل کړي کوم چې د نړیوال او افغان برخوالو هڅې پکې ناکافي وې، او هلته پرمختګ ګړندی کړي چې لاسته راوړنې شوې دي.» افغانان باید د دوي د هېواد سره د ژمنه شویو مرستو اغیز محسوس او د هغه پایلې ووینې. باید ووینې چې فساد ته مجازات او ورتیا ته مکافات ورکول کېږي. ملکي وګړي باید هم له ترهګرۍ او بغاوت او هم د دولت پلوه پوځي عملیاتو د غیر عمدی پایلو څخه خوندي شي. هغه په پای کې وویل، هغوی باید پر نړیوالې ټولنې، ملکي او پوځي برخو، او په ځانګړې ډول پر خپل حکومت باندې باورمند شي.

## د ځانګړي استازي معلوماتي وینا

کای ایده، د افغانستان لپاره د سرمنشي ځانګړي استازي او د یوناما مشر، وویل چې شورا ته د هغه له وروستي راپور څخه وروسته د ۲۰۰۸ کال د جون په میاشت کې د پاریس کنفرانس مثبت خبرې، د ناوړه امنیتي وضعیت په راپورونو بدل شوي دي. د ۲۰۰۲ کال راپدېخوا د جولای او اګست میاشتې تر ټولو ډېرې امنیتي پېښې تجربه کړې دي. بغاوت د کابل شاوخوا ولایتونو ته غځېدلی، بریدونه مرګوني شوي او بشري موخې هم په زیاته کچه په نښه کېږي. له رمضان څخه وروسته د بریدونو کموالي د پولیو واکسین کمپاین ممکن کړ، خو اوس بریدونه بیا زیات شوي او ښايي د ژمي د موسم د معمول کمښت هم ترسترګو نه شي. وضعیت ستونزمن او پېچلی دی.

خو دغه چاپېریال د وروستیو ناهیلۍ خپروونکو څرګندونو پر وړاندې خبرداری ورکړ، او یادونه وکړه چې باید پر مثبتو پرمختګونو تکیه وشي. له پاکستان سره د افغانستان اړیکې ښې شوي دي او رغنده اړیکې رامنځته کېږي. د ګډ یاغي ګواښ پر بنسټ د دواړو هېوادونو خبرې پراخېږي او نړیواله ټولنه باید دا ډول اړیکې وهڅوي. د لویې جرګې بهیر هم به مرسته وکړي. په افغانستان کې سیاسي بدلونونه، د کورنیو چارو وزارت او پولیسو پیاوړتیا، ډېر مهم ګڼل کېدای شي. د کرنې وزارت بدلونونه هم د خوړو د کمښت په مخنیوي او په اوږد مهال کې له پامه غورځېدل شوي برخو کې د اقتصادي ودې په هڅولو کې مرسته کولای شي. د ناقانونه مخدره توکو شمېرې هم د ښه والي ښکارندوی دي، اوس مهال د کوکنارو تولید یوازې په سویلي سیمو کې محدود شوی او دغه پدیده نور په ملي کچه کې نه حسابل کیږي. دغه پرمختګ باید ټینګ وساتل شي.

که له دغو مثبتو بهیرونو ښه استفاده وشي، نو اوسنی منفي چاپېریال په زیات باور بدلون موندلای شي، چې د دواړو افغان ولس او مرسته‌کوونکو لپاره مهم دی. خو جدي بشري ستونزې زیاتې شوې او مرسته‌کوونکي باید د خوړو د بحران د اغېزو د کمولو ژمنې پوره کړي. ټاکنیز بهیر یوه اوونۍ مخکې پیل شوی او د نوم‌لیکنې مرکزونه ۹۰ سلنه پرانیستي دي. یوناما وضعیت له نږدې څاري او له ایساف سره کار کوي.

په ټولیز توګه د یوناما او ایساف تر منځ همکاري ډېره ښه شوې ده. د ملکي-پوځي همکارۍ په چوکاټ کې باید د ټولو سرچینو لپاره د یو داسې هر اړخیزه وېش تګلاره وکارول شي چې په سېمه کې غوره پایله ورکړي. اوس پوځي سرچینې تر ډېره هغو ولایتونو ته ځي چې جګړه پکې ډېره ده. خو متوازن ولایتي لید ته اړتیا ده، څو همدغه ولایتونه پراختیایي مرستې هم ترلاسه کړي. ځینې جګړه ځپلي ولایتونه د

مناسبې پراختیايي سرچینې په ورکولو سره ثبات موندلای شي. له عادلانه وېش پرته د افغانستان ملي پراختیايي تګلاره د پلي کېدو وړ نه ده.

د پخلاینې په اړه، هغه زیاته کړه چې دا تر ډېره سیاسي ستونزه ده، خو نړیواله ټولنه باید د هغه ملاتړ وکړي. یوناما مرستې ته چمتو ده، خو لا هم یو کوچنی پلاوی دی او د خپل ماموریت د پوره کولو لپاره مسلکي کارکوونکو ته اړتیا لري. د کارکوونکو او د بودجې زیاتوالي ملاتړ ته اړتیا شته. د ماموریت د کارکوونکو کیفیت، د شمېر په پرتله د زیات اندېښنې وړ دی. د مرستو اغېزمنتیا او کرنې ډګرونو لپاره متخصصینو ته اړتیا شته. له پاریس کنفرانس وروسته د ادارو د جوړولو، د ملکي خدمتونو د اغېزمنتیا، د نوو وزیرانو د ملاتړ او په نورو عرصو کې د هدفمند مرستې لپاره یوه بهتره یو موټی او اغیزمن تګلاره رامنځته شوې ده.

هغه وویل، په نږدې راتلونکي وخت کې باید د پاریس له ژمنو سره د اړوند او بېلابېلو معیارونو له مخې د مرستو اغېزمنتیا د اندازه کولو لپاره میکانیزم جوړ شي. برسېره پر دې د سرچینو د څار او تعقیب لپاره باید یو واحد معلوماتي بانک هم جوړ شي. اوس حکومت نه پوهېږي چې ټولې ترلاسه شوي او لګول شوې پیسې څومره دي. باید دا هم روښانه شي چې کوم ډول پولیس خدمتونه رامنځته شي، او د افغانستان او پاکستان تر منځ اړیکې باید پراخې او ژورې شي. دا ټولې برخې د دې غوښتونکې دي چې ترسره شوې ژمنې باید جدي ونیول شي.

## څرګندونې

### ظاهر طنین (افغانستان)

ظاهر طنین (افغانستان) وویل، چې د نړیوال ائتلاف د ځواکونو او افغانانو د سخت کار سره سره، ترهګري بیا د لا زیات ډېرېدو په حال کې ښکاري. طالبانو ښوونځي وسوځول، د بیارغونې مخه یې ونیوله او ملکي وګړي یې وژل. هغوی نړیوالې بشري مرستې ځنډولې او عادي خلک یې په زیاتېدونکي ډول سره په نښه کړي دي. د دغه رجحان د په شا تمبولو لپاره اړتیا ده چې هغه تغیرات و پېژندل شې چې د ۲۰۰۱ کال د طالبانو د ګواښ راهیسې، د دوی په سرچینو او ستراتیژۍ کې رامنځته شوي دي.

هغه وویل طالبان یو نامتجانس جوړښت دی او ځینې غړي یې ښايي سولې ته چمتو وي. طالبانو او القاعدې د پاکستان د فدرالي ادارې لاندې قبایلي سیمو کې عملیات زیات کړي او هیله لري چې په امریکا او افغانستان کې د ټاکنو د مهال څخه په ګټه اخېستلو سره افغانستان لپاره د نړیواله ژمنه بدله کړي. طالبان رواني جګړه کوي او داسې لوی بریدونه ترسره کوي کوم چې رسنۍ یې ژر خپروي.

هغه پر دې ټېکار وکړ چې امنیت یوازې پوځي امنیت نه دی، ریښتینی امنیت د افغانانو د ورځنې ژوند په ښه کېدو سره رامنځته کېږي. دا په بشري هڅو، حکومتولۍ، د قانون حاکمیت، د مخدره توکو پر ضد مبارزې، راتلونکو ټاکنو، پیاوړي پوځ او پولیس ځواکنو او دوامدار اقتصادي پرمختګ له لارې سنجول کېږي. د خوړو کمښت چټک نړیوال پاملرنې ته اړتیا لري. درې ورځې مخکې حکومت د کابینې په بدلون او د نوي کورنیو چارو وزیر په ټاکلو سره د فساد د له منځه وړلو لپاره مهم ګام پورته کړ او د فساد ضد څار عالي اداره یې هم جوړه کړه.

هغه وويل، د هېواد له نيمايي څخه زيات ولايتونه له کوکنارو څخه پاک شوي دي او د مخدره توکو پر ضد مبارزه د بدلون پيل څرګندوی دی، او د کوکنارو پاڼي کرکلې په ناامنو سيمو کې ده. په ۲۰۰۹ کال کې خوندي، رڼې، پر وخت او باوري ولسمشريزې ټاکنې خورا مهم دي. ټولټاکنې دوامدارو اوږدمهالو هڅو ته اړتيا لري. حکومت هيله لري چې سياسي بهير د وېش پر ځای، د افغانستان لپاره د يووالی رامنځته کولو لپاره عمل وکړي. ملي اردو په قومانده او کنټرول کې ښه پرمختګ کړی او پلان دا دی چې د هغه شمېر تر ۲۰۱۰ کال پورې، له ۷۵۰۰۰ څخه، ۱۳۴۰۰۰ ته لوړ کړي. حکومت د ملي پيوستون د پروګرام له لارې هوډ لری چې د افغانستان د کليو دوه پر دريمه برخو څخه زيات سېمو کې سړکونه، ښوونځي او کلينيکونه جوړ کړي.

هغه وويل: «په افغانستان کې د پرمختګ لاره دا دی چې تاييد کړو چې پرېښودل او ناکامي انتخابونه نه دي. بايد د آيا موږ به ناکامه شو، پر ناسم بحث او مناظره باندي وخت تېر نه کړو، بلکې موږ بايد بر سم بحث باندي تمرکز وکړو چې په څه ډول موږ بريالی کيدای شو.» د رواني جګړې په وړاندي دغه لاره سيمه ايز حل ته او دوامداره نړيواله ژمنه او مناسب ستراتيژيګانو ته اړتيا لري، او د هېواد د ستونزو د سياسي بريالی حل د ټولو مهمو عناصرو ارزونه او په پام کې نيولو اړتيا لري.

هغه طالبان سيمه ايز ګواښ وګڼل او ويې ويل چې د پاکستان نوی ولسمشر اصف علي زرداري د باور وړ يو ملګری دی چې ورسره د ترهګرۍ ګډه مبارزه پر مخ بيول کېدای شي. د افغانستان د بهرنيو چارو وزير به د اکتوبر د مياشتې پر ۲۲ نېټه پاکستان ته سفر وکړي. نړيواله ټولنه بايد د طالبانو او القاعدې د ګواښ د ختمولو لپاره ګډې هڅې پياوړې کړي. د بخارست سرمشريزه ناسته او پاريس کنفرانس له ۲۰ ميلياردو ډالرو ډېرې ژمنې د نړيوالې ژمنتيا نښه وه. داسې تمه کيږي چې د نړيوال پام پر دغه تمرکز باندي پاتې شي.

د تبليغاتي جګړې د مخنيوي لپاره بايد د افغانستان په اړه په خبرو کې د احتياط څخه کار واخيستل شي. طالبانو وروستی څرګندونې او راپورونه د دې لپاره کارولي چې افغانان د نړيوالې ارادې په کمزوري او بې وسې باندي قانع کړي. برياوې بايد لړ ونه ګڼل شي: ناخالص کورنی توليد له ۲۰۰۱ کال راهيسې درې برابره شوی او د هېواد په دوو برخو کې شخړه شتون نه لري. نړيواله ټولنه بايد د برياوې په اړوند لړ راپور ورنه کړي او د طالبانو ورانکاري او وحشت په پياوړو ټکو بيان او  افشاء کړي.

د «سياسي چټک خوځښت» په توګه بايد د پخلاينې هڅې د افغانستان دننه او بهر په ښه توګه تنظيم شي. په وروستيو مياشتو کې مهم ګامونه اخيستل شوي دي او حکومت هم به خپلې اړيکې هم د طالبانو تر اغېز لاندې او هم امن ځايونو ته وغځوي. خو سياسي جهش بايد پوځي اقدام هېر نه کړي. د نړيوالو سرتېرو زياتوالی لومړی اړين ګام دی؛ هغوی بايد مقابله او بشپړ عمليات ترسره کړي او د ملکي تلفاتو موضوع په مسؤلانه ډول سره مديريت کړي.

جوليو ترزي دي سانت اګاتا (ايټاليا ): هغه په افغانستان کې د ملکي فعاليتونو د همغږۍ لپاره د ملګرو ملتونو څخه خپل بشپړ ملاتړ تاييد کړ او ويې ويل چې يوناما بايد کافي سرچينې ولري، په ځانګړي ډول په داسې يو حالت کې چې سياسي او بشري ګېرګون خورا اړين دي. د ملکي تلفاتو لوړه کچه، پرمختګ تر سيوري لاندې نيولی دی. د پاريس ستراتيژي بايد په زيات هوډ سره پلې او ملکي-پوځي همکاري لا زياته شي.

هغه وويل چې د ده هېواد ايټاليا د بودجې له محدوديتونو سره سره د خپلو ځواکونو انعطاف پذيری زيات کړی دی، ټولټاکنو او نورو پروګرامونو ته يې اضافي سرچينې ورکړې او په عدلي سکتور کې د سمون ملاتړ کوي. په داسې حال کې چې د ايټاليا هېواد د افغانستان او

پاکستان تر منځ د ښه شوي اړيکې څخه هرکلی کوی دغه هېواد هېله لري چې د جي-۸ د سرمشریزی د ریاست پر مهال پر دغه ډګر باندي هم کار وکړي. د نړيوالو په ټولو کوښښونو کې بايد منطقي یوموټې توب پیاوړي شي.

جيادالله ا. الطلحي (ليبيا)

هغه وويل په افغانستان کې امنېتي وضعيت خورا خراب شوی دی چې په ۲۰۰۸ کال کې ملکي وګړي مرګ ژوبله، د ۲۰۰۷ په پرتله، ۳۹ سلنه زياته شوېده او د ده په وينا تر نيمايي زيات قربانيان د نړيوالو ځواکونو د اقداماتو له امله تلف شوي دي. د ليبيا هېواد د ياغيانو هغه کړنې هم وغندې چې ملکي تلفات يې اړولي دي. د پاريس کنفرانس پر مهال د  افغانستان لپاره د ملي پراختيايي ستراتيژی د ۲۱ ميلياردو ډالرو څخه زيات ژمنو سره ومنله، هغه وويل. بايد د پلي کېدو او تر سره شوي ژمنو ارزونه وشي ځکه چې د سولې او امنيت لپاره پراختيا خورا مهم فکتور دی. د ماين پاکۍ، مخدره توکو پرضد مبارزې او سيمه ايزو اړيکو په برخو کې پرمختګ شوی، خو تشې لا هم شتون لري او د هغه حل د وګړو د بيلابيلو سکتورونو او د موازي پراختيا هڅو تر منځ يوالې غواړي. حکومت بايد له فساد او افراطيت سره مبارزه او د خلکو باور بېرته احياء او ترلاسه کړي. په داسې حال کې چې د بنديانو د حقونو، شکنجې او په خپل‌سري بندی کولو په اړه اندېښنې لا هم پاتې دي، د ليبيا هېواد يو ځل بيا غوښتنه کوي چې د هر يو لپاره بشري حقونه رعايت او درناوي شي. . د ليبيا هېواد د خوراکي توکو د بحران چې د وچکالې او د خوراکي توکو د بيو د زياتيدو له امله دی، خورا اندېښمند دی.  بايد نړيواله ټولنه او يوناما په دغه ډګر کې پريکنده ونډه ولوبوي او اړينې سرچينې برابرې کړي، ماموريت بايد کافي سرچېنی ولري تر څو دغه دنده ترسره کړي.

زلمي خليلزاد (متحده ايالات)

د متحده ايالاتو استازی د يوناما د نوي ماموريت لپاره د ځانګړي استازي د وړانديزونو پر بنسټ د ظرفيت د عاجل زياتوالي څخه خپل ملاتړ ښکاره کړ. امريکا د خوړو د کمښت او سړې هوا له امله د بشري وضعيت په اړه ژوره اندېښنه لري او د لوی مرسته‌کوونکي هېواد په توګه د نورو مرستو چمتووالی هم لري. امنيت خورا ننګونکې شوی دی، ځکه چې طالبان او د دوی متحدينو پر ملکي او نظامي هدفونو باندې خونړي بريدونه ترسره کړي دي.  په تېر وخت کې د ناهېلی او بدګامنې د خبرو با وجود، د دوي پر ضد بريا ممکنه ده. حکومت بايد ملي پراختيايي سترايژی پلې کړي، سيمه‌ايزه حکومتولي ښه کړي، فساد کم کړي، پوليس کې سمون راولې او د مخدره توکو پر وړاندې هڅې زياته کړي. د امريکا متحده ايالات خوښ دی چې افغان امنيتي ځواکونه ډېر مسؤليت په غاړه  اخلي او نړيواله ټولنه بايد ډاډ تر لاسه کړي چې د ۲۰۰۹ کال خورا مهم ټاکنې پر خپل وخت، په باوري ډول او شفافه توګه ترسره شي. متحده ايالات د افغانستان پر حکومت باندي غږ کوی چې ټولټاکنې پر خپل وخت ترسره کړي.

د ګاونډي هېوادونو د ونډې پر اهميت ټينګار سره، هغه ياده کړه چې د پاکستان نوی حکومت د سيمه‌ايزې ترهګری پر ضد جګړې لپاره فرصت وړاندې کړی دی: د نور مسلو تر څنګ دا په دې مانا ده چې بايد د دښمنو ځواکونو پټنځايونه ختم، د ملي موخو لپاره د ترهګری کارول بند شي، استخباراتي معلوماتو شريکول زيات او پخلاينه پياوړي شي. افغانان او پاکستانيان نړيوال ملاتړ ته اړتيا لري.

خلیلزاد د ملکي ژوند په ناځاپي ضایع کېدو سره ژوره خواشیني وښوده او وېې ویل امریکا به د ایساف او دوامداره ازادۍ عملیاتو له لارې د ملکي تلفاتو د مخنیوي او د پېښې پر مهال د مسولیت منلو لپاره خپله ټوله هڅه وکړي. خو د تلفاتو بنسټیز لامل د طالبانو جګړه ده چې د ملکي خلکو څخه د ډال په توګه کاروي او پر ګڼ مېشتو سیمو باندي تامتوازن بریدونه ترسره کوي. لا زیات همغږی ته اړتیا ده او متحده ایالاتو د قوماندې سلسله ساده شوې دی. او نور ځواکونه به افغانستان ته واستول شي.

## یان ګراولس (بلجیم)

هغه وویل زه هم د ملکي قربانیانو په اړوند خپله اندېښنه شریکوم. که څه هم ډېری تلفات د یاغیانو د بریدونو له امله ترسره شوي دي، د نړیوالو ځواکونو له خوا ملکي تلفات باید تر ممکنه حده پوري مخنیوی وشي. د مخدره توکو کرل او تولید باید نور هم کم او امنیت هم د پاریس کنفرانس له پلان سره سم د پراختیایي فعالیتونو په ګډون، د هر اړخیزو تګلارو له لارې پیاوړی شي. د بلجیم هېواد په ایساف کې د ګډون تر څنګ د مهمو پراختیایي پروژو ملاتړ هم کوي. باید د حکومت نیمګړتیاوې د پریکنده اقدماتو له لاري حل او د نړیوالو مرستو له ستر اغېزمنو تدابیرو سره برابرې شي. په پای کې، هغه وویل، د ځانګړي استازی د مثبت رجحانات یادونه، دواړه افغانستان ولس لپاره او همدارنګه د نړیوالې ټولنې لپاره د هېلې سګنالونه دي.

## مارټي م. ناتالیګاوا (اندونیزیا)

هغه ټینګار وکړ چې وضعیت په افغانستان کې باید د امنیت، ښه حکومتولۍ او ټولنیز-اقتصادي پرمختګ د یو ګډ ستراتیژی له لاری حل شي. اندونیزیا ملي پراختیایي ستراتیژی د پلي کولو لپاره هم ټینګار کوي. همداراز دغه هېواد د سولې او پخلاینې لپاره د عدالت د عمل پلان ته لومړیتوب ورکولو باندی تېنګار کوي. هغه د تریاکو د کر او تولید د کمښت له امله هرکلی وکړ.

هغه وویل که څه هم د افغانانو په مشرۍ د پخلاینې پروسه باید ټولشموله وي، په دغه اړوند په تېرو وختونو کې د افغانستان د ګاونډیو هېوادونو له خوا د افغانانو تر منځ د ډیالوګ د پروسې سره د مرستې او ملاتړ هرکلی وکړ. د ملکي وګړو د خوندیتوب لپاره لازمه ده چې ټول اړوند اړخونه باید نړیوال بشري او د بشري حقونو قانون مراعات کړي، د اندونیزیا هېواد په افغانستان کې نړیوالو ځواکونو باندي غږ کوی چې د ملکي وګړو د تلفاتو د کمولو لپاره پیاوړي اقدامات ترسره کړي تر څو دغه ګواښ کم شي.

د بشري وضعیت په اړه هغه وویل، چې دغه هېواد په ځانګړی ډول د بشري مرستو سرچینو بسیجول ته بېړنۍ اړتیا لري، او ټینګار وکړ چې پر بشري کارکوونکو باندي بریدونه په دایمي ډول سره بند شي. د اندونیزیا هېواد هېله لري چې د افغان مهاجرینو لپاره د بېرته تګ او ادغام په اړوند نړیوال کنفرانس به وکولای شي بېرته راستېدونکو او داخلي بېځایه شویو کسانو لپاره ملاتړ راټول او ترویج کړي. د مشارکت په اړوند، اړتیا شته چې د پاریس په کنفرانس کې ترسره شوی ژمني باید په بېړې سره تحقق و مومي. اندونیزیا د هغو خنډونو په اړوند، چې د ناوړه امنېتی وضعیت له امله پیدا شوي او د یوناما د ماموریت پر پلي کولو لپاره امنیتي خنډونه راولاړ کړي دي، اندېښنه لري.

لې لونګ مين (ويتنام)

هغه په ټول هېواد کې او په ځانګړي ډول د کابل شاوخوا ولايتونو ته د تاوتريخوالي د خپرېدو او د بيارغونې هڅو د خنډ په اړه خپل ژوره اندېښنه څرګند کړ. د ناامنۍ له امله ۱۹۰ زره ماشومان له واکسين څخه بې برخه پاتې شوي دي او د هېواد د نفوس شپږمه برخه د خوړو له کمښت سره مخ دي چې دا ټول د شديد تاوتريخوالې سره تړلې دي. يوه بله اندېښنه پر مرستندويانو او د مرستو پر کاروانونو باندي بريدونه دې چې بايد ودرول شي او د بشري کارکوونکو خونديتوب يقيني کړاي شي. د ويتنام هېواد غواړي چې دا ډول ټول غير موجه بريدونه بايد پاى ته ورسيږي او د داسې اقداماتو غوښتنه وکړ چې کولاي شي د دغه شريف بشري دندې ټول ترسره کوونکې خونديتوب ډاډمن شي.

د يو لومړيتوب په توګه، د امنيت د لا پياوړتيا لپاره هغه ټينګار وکړ چې بايد د شخړو د اصلي لاملونو لپاره کار او رسيدګې وشي. په دغه تدابير کې کيداي شي کليوالې سيمو وګړو ته کاري فرصتونه ومونډل شي تر څو دوي د ترياکو پر کښت باندي متکې نشي، او همدارنګه بايد ښه ټولنيز خدمات، د بديل معيشت، روغتيا او زده‌کړي په ګډون برابر شي، ترڅو خلک د سولې له ګټو برخمن شي او پوه شې چې د تاوتريخوالې د پروسې د قربانې کيدل څخه بهتره ده چې د سولې د رامنځته کوولو د ګټمن په ډول ژوند وکړي. پدې اړوند د ويتنام هېواد ټول هغه هڅې ستايې چې د ملې پراختيايې ستراتيژۍ لپاره ترسره کيږي او د زريزې پرمختيايې موخې هم تر لاسه کيږی.

په ورته وخت کې هغه وويل، د افغانستان هېواد مستحق دی چې دوامداره نړيواله مرسته تر لاسه کړي، چې د پاريس کنفرانس کې د ترسره شويو ژمنو چټک پلې کيدل ته اړتيا لري، او د يوناما له لاري پر ملګرو ملتونو باندې غږ کوی چې د دغه پروسې د کلېدې همغږې کوونکې په صفت خپله ونډه ولوبي. ځکه دا ډيره مهمه ده چې نړيوال مرستې بايد تر ټولو زيات زيانمن شوي وګړو ته ورسيږي. هغه په پاى کې د د افغانستان حکومت او د جګړې وروسته د افغان وګړو سره د خپل هېواد په بيا آبادولو کې د ويتنام هېواد د دوامداره ملاتړ اعلان وکړ.

ژان موريس ريپرټ (فرانسه) وويل، چې څرنګه چې يوناما (په افغانستان کې د ملګرو ملتونو مرستندوي پلاوي) ته د بشري مرستو د همغږۍ لومړنۍ دنده سپارل شوی دی، نو ټول نړيوال فعالين بايد د دغه رول ملاتړ وکړی او ياد ماموريت ته د خپلو دندو د ترسره کولو لپاره اړينې سرچينې چمتو کړي. په تېرو څو مياشتو کې ترسره شويو بدلونونه ګډې پايلې درلودې. په مثبتو برخو کې د نشه يي توکو پر وړاندې مبارزه کې بريا شامله ده، خو د اندېښنې وړ مسايل، د ساري په ډول، امنيتي، بشري حقونو او بشردوستانه وضعيت هم شامل دي. که څه هم فرانسه د ملکي وګړو د تلفاتو په اړه اندېښمنه لري، خو د هغوی د مرګ ژوبلې اصلي لامل د حکومت ضد عناصر فعاليتونه دي.

هغه وويل چې شته ستونزې او ننګونې بايد هغه پرمختګونه تر سيوري لاندې رانه ولي چې ترلاسه شوي دي. د ساري په ډول د ماشومانو د مړينې په کچه کې ۲۵ سلنه کمښت، ښوونځيو ته د ماشومانو د تګ په شمېر کې زياتوالی او د ډيموکراتيکو بنسټونو رامنځته کول. نړيواله ټولنه بايد په ۲۰۰۹ او ۲۰۱۰ کلونو کې د راتلونکو ټاکنو د چمتووالي لپاره مرسته وکړي. نړيوالې ټولنې او افغانستان يوه داسې ستراتيژۍ درلوده چې د "افغانستان تړون په نوم ياديږي او د پاريس د لارې نقشې لا له مخې ټاکل شوې وه او د افغان ولس پر اړتياوو تمرکز درلودل. د دغو ژمنو د عملي کولو لپاره بايد په چټکۍ سره پرېکنده ګامونه واختيستل شي.

هغه د اروپايي ټولنې په استازيتوب ووېل چې په افغانستان ملګري ملتونه کولای شي د دغې ټولنې پر بشپړ ملاتړ حساب وکړي. اروپايي ټولنه د بيارغونې په برخه کې دويمه لويه مرستندويه ډله ده او د نورو چارو ترڅنګ يې د ملي پوليسو په پياوړتيا کې هم ونډه اخيستې ده. په پوځي برخه کې، د اروپايي ټولنې ۲۵ غړي هېوادونه د ايساف ستره برخه وو چې د ټولو ځواکونو نيمايي شمېر جوړوي. د شخړې د دايمي حل لپاره بايد پوځي او سياسي هڅې دواړه يو ځای ترسره شي. د پخلاينې د پياوړتيا لپاره بايد تر ممکنه حده پورې پراخ ملي سياسي ډيالوګ ترسره شي. خو په دغو هڅو کې جهاديان شامل ندی او بايد تر ختميدو پوري ورسره جګړه وشي.

جان ساوېرز (انګلستان) د ښاغلي ايډي وراندېزونو ته ښه راغلاست ووېل او ومنله چې په افغانستان کې د خوندي راتلونکې لپاره د يوناما شتون کارنده دی. هغه بيا ټينګار وکړ چې د بغاوت خوځښت يوازې د پوځي لارو چارو په واسطه نه شي له منځه تلای. ښه حکومتولي او د کارنده اقتصادي وده هم په مساوي توګه ارزښت لري. په اصل کې ننګونه دا وه چې افغانانو سره مرسته وشي ترڅو دوی خپل ليډلوری جوړ کړي.

د مسلکي پوليسو د ځواک د رامنځته کولو په برخه کې لا زيات پرمختګ ته اړتيا ده، او هغه هيله څرګنده کړه چې د کورنيو چارو په وزارت کې بدلونونه به د دې موخې په ترلاسه کولو کې مرسته وکړي. د نشه يي توکو په برخه کې هغه ووېل، چې بايد له بې توجهۍ څخه ډډه وشي او د کوکنارو د توليد پر وړاندې د مبارزې په برخه کې يې د خپل هېواد ځېنې هڅې بيان کړ. د ملکي وګړو د تلفاتو په اړه، هغه يادونه وکړه چې ډېری تلفات د ياغيانو له امله رامنځته شوي دي، خو زياته کړه چې بايد پر کړنلارو باندې په دوامداره توګه بيا کتنه وشي ترڅو ډاډ ترلاسه شي چې د نړيوالو عملياتو له امله رامنځته شوي تلفات تر ټولو ټيټې کچې ته راښکته شي. هغه د افغانستان د ثبات لپاره د نړيوالو هڅو د نوي کولو په برخه کې د ښاغلي ايډي غوښتنې ملاتړ وکړ.

ميشل کافانډو (بورکينا فاسو) ووېل چې افغانستان د امنيت شورا په اجنډا کې يوه له خورا ستونزمنو او پيچلو مسلو څخه پاتې ده. د يوناما په وړاندې شته ننګونې د بغاوت خوځښت د زياتوالي له امله لا نور هم سختې شوې دي، او بايد دې وضعيت ته په بيړنۍ توګه، د خبرو اترو او مذاکراتو له لاري او په ګډون، سمه پاملرنه وشي. هغه د نړيوالې ټولنې څخه وغوښتل چې هوښيار  دې پاتې شي او د افغان ولس کړاوونه کم کړي. هغه د کډوالو د ستونزو په برخه کې د روانو هڅو هرکلی وکړ. همدارنګه په ګوته کړ چې د بشري حقونو د سرغړونکو لپاره د معافيت دود ته د پای ته رسولو په موخه بايد جدي او زړور ګامونه پورته شي.

هغه د ټاکنو قوانينو په برخه کې د پرمختګ هرکلی هم وکړ او ويې ويل چې د راتلونکو ټاکنو د مخه د امنيت د ښه کولو لپاره بايد هر ډول هڅې ترسره شي. سربېره پردې، هغه په سياسي ډګر کې د مثبتو بدلونونو او د افغانستان او د سيمې د نورو هېوادونو ترمنځ د اړيکو د بيا رغېدو د يو شمېر نښو هرکلی وکړ. په پای کې، هغه ووېل چې يوناما بايد د خپلې تازه نوې شوې دندو د ترسره کولو پر مهال د امنيت شورا پر ملاتړ باندې حساب وکړي.

ډومیساني کومالو (سویلي افریقا) وویل چې نړیواله ټولنه په یوه باثباته، سوله ایز او ډیموکراتیک افغانستان کې مشترک ګټې لري. هغه ننګونې چې دغه هېواد ورسره مخ دی، باید کمې ونه ګڼل شي. په دې کې تر ټولو مهم موارد د امنیتي وضعیت خرابېدل، د بشري حقونو په برخه کې نیمګړتیاوې، د بشري وضعیت خرابېدل او د ملکي وګړو په مرګ ژوبله کې زیاتوالی دي. هغه د هېواد د بې ثباته کولو هر ډول هڅې، په ځانګړې توګه پر ملکي وګړو او ماشومانو باندې ترهګریز بریدونه وغندل. امنیتي وضعیت د یوناما د ماموریت د پلي کولو مخه هم نیولې ده. هغه د ملکي وګړو د مرګ ژوبلې د زیاتوالي په اړه د اندېښنې په څرګندولو سره د نړیوالو ځواکونو څخه یې وغوښتل چې ملکي وګړو ته متوجه شوي ګواښ کم کړي.

هغه وویل چې هېواد د نورو برخو ترڅنګ، د نشه يي توکو پر وړاندې د مبارزې په برخه کې پرمختګ کوي. د کوکنارو کښت او تولید کم شوی دی. هغه حکومت وهڅاوه چې د کوکنارو د کښت لپاره د عملي بدیلونو د وړاندې کولو په موخه خپله اداري او بنسټیزه وړتیا لوړه کړي. د سیمه ییزې همکارۍ پر اهمیت په ټینګار سره، هغه د افغانستان او پاکستان ترمنځ د اړیکو ښه کېدل وستایل او د معلوماتو د تبادلې د ښه کولو له لارې د افراطیت او ترهګرۍ پر وړاندې د مبارزې په برخه کې د دواړو هېوادونو د هوډ هرکلی وکړ. څرنګه چې په بشري برخو کې ښه همغږي حیاتي اهمیت لري، نو هغه د داسې همغږۍ لپاره د یوناما د وړتیا او پیاوړتیا ملاتړ وکړ.

نیون جوریکا (کراوشیا) وویل چې هغه د امنیتي وضعیت د خرابېدو له امله اندېښمن دی ځکه چې وسله وال بغاوتشد ت موندلی دی. په ځانګړې توګه له پاکستان سره په سرحدي سیمو کې وضعیت د اندېښنې وړ دی. څرنګه چې د طالبانو تاکتیکونه د ملکي وګړو د مرګ ژوبلې په زیاتوالي کې رول درلود، نو هغه په ټول افغانستان کې د بشري حقونو او بشري قوانینو د نړیوالو اصولو پر کلک رعایت ټینګار وکړ. هغه د بشري وضعیت د خرابېدو له امله هم اندېښنه څرګند کړ کوم چې د خوراکي توکو د بیو د نړیوال زیاتوالي له امله لا پسې خراب شوی دی. د دې وضعیت د حل لپاره، کراوشیا د خوړو له نړیوال پروګرام سره ۵۰ زره ډالر مرسته اعلان وکړ.

څرنګه چې په افغانستان کې وسله وال بغاوت د نشه يي توکو د سوداګرۍ له لارې پیاوړی کېږي، نو هغه د هغو راپورونو له امله هیله مند و چې له مخې یې د کوکنارو په تولید او کښت کې کمښت راغلی دی. فساد له کوکنارو سره نه بېلېدونکې اړیکه لري. د حکومت وروستیو اقداماتو د دې ناوړه پدیدې پر وړاندې د مبارزې لپاره د هغوی جدي اراده په ډاګه کړه. د امنیتي مسلو په اړه، هغه د ملي اردو د پرله پسې پرمختګ او په کابل کې د امنیتي مسؤلیتونو د سپارلو هرکلی وکړ. هغه همدارنګه د افغانستان او د هغې د ګاونډیانو ترمنځ د وروستیو سیمه ایزو هوکړه لیکونو هرکلی وکړ.

هغه وویل، څرنګه چې دې ستونزې ته کوم نظامي حل نشته، نو حکومت باید یوه هراړخیزه تګلاره غوره کړي چې بشري او پرمختیایي فعالیتونه پکې شامل وي. ناراضي افغانان باید د ملي بهیر خوا ته وګرځول شي. باید په بېړنۍ توګه د بشري او امنیتي سرچینو لویه برخه یوناما  ته ځانګړې شي. کروشیا خپله نظامي ونډه ۳۰ سلنه زیاته کړې او یو شمېر پرمختیایي پروژې یې پیل کړې دي.

ویتالي چورکین (د روسیې فدراسیون) وویل چې هغه په افغانستان کې د خرابېدونکي امنیتي وضعیت په اړه د څرګندو شویو اندېښنو سره موافق دی او ټینګار یې وکړ چې باید د افراطي ډلو مشران منزوي کړای شي. د نشه ییي توکو ګواښ یوه ځانګړې اندېښنه ده او اړتیا ده چې له سیمه ایزو میکانیزمونو څخه کار واخیستل شي. د نشه ییي توکو د ګواښ پر وړاندې له مبارزې پرته، د ایساف فعالیتونه به

په بشپړ ډول سره اغېزمن نه وي. روسېې د نشه يي توکو د کواښ او د ترهګرو د ملاتړ پر وړاندې د مبارزې په برخه کې د همکارۍ وړاندیز کړی دی، خو تر دې دمه دغه وړاندیز په بام کې نه دی نیول شوی.

هغه وویل چې د ملکي وګړو د تلفاتو مخنیوی خورا مهم دی، په ځانګړې توګه کله چې دا زیانونه د نړیوالو اقداماتو په پایله کې رامنځته کیږي. د پاریس د کنفرانس پایلې باید د افغانستان د ثبات او د هغې د پرمختګ سره د مرستې لپاره د یوې لارې نقشې په توګه وکارول شي. په ځانګړې توګه د اغېزمنو ملي وسله والو ځواکونو رامنځته کول او د پرمختیایي نوښتونو پیاوړتیا خورا مهم دي. روسیه په دې وروستۍ ډګر خورا فعاله وه، چې له امله یې د افغانستان پور یې کم کړی دی او د نورو نوښتونو لپاره یې تحصیلي بورسونه او مرستې چمتو کړې دي.

اندرس ډي وینګوچیا (پاناما) وویل چې دا خبره چې "افغانستان اوس په یوه حساس پړاو او یا دوه لارې کې قرار لري" تر بل هر وخت ډېره واضح ښکاري. دوه ټولټاکنې په مخ کې پراته دي، نو ځکه یا د هغې ستراتیژۍ دوام چې په پایله کې به یې ټول زیانمن شي او یا هم د ملي پخلاینې ترڅنګ د هېواد د بیارغونې لپاره د هڅو ګړندي کول ضروري دي. نظامي بریا شونې نه دی او نه هم د ټولو یاغیانو د ځواکونو له منځه وړل ممکن دی. یاغي خوځښت له داسې یوه کلتور څخه راپورته شوی چې په ټولنه کې ریښې لري.

هغه وویل چې د افغانستان حکومت باید د یاغي ډلو د معتدلو عناصرو، په ځانګړې توګه د طالبانو د هغو غړو د یوځای کولو لپاره خپلې هڅې دوه چنده کړي کوم چې له تاوتریخوالي څخه یې لاس اخیستی وي. همدارنګه اړتیا وه چې افغانستان ته د نړیوالې ټولنې سیاسي ژمنتیا زیاته شي. افغانان باید احساس کړي چې د نړیوالو هڅو له امله د دوی ژوند ښه کیږي. د فساد د له منځه وړلو او د هر وګړي د ژوند د معیارونو د لوړولو لپاره باید په ټول هېواد کې د قانون حاکمیت او واکمني ټینګه شي. تاوتریخوالی او نا امیدي باید پای ته ورسېږي.

جورج اوربینا (کوسټا ریکا) وویل چې په امنیتي وضعیت کې جدي خرابوالی د بېلابېلو عواملو د یوځای کېدو پایله ده، په ځانګړې توګه د حکومتولۍ مسله چې د دې ستونزې په زړه کې ځای لري. د مثبتو پرمختګونو سره سره، د حکومت لپاره اصلي ننګونه په سیمه ایزه کچه کې د ظرفیت رامنځته کول دي، چیرې چې د سرچینو کمښت او اداري فساد لاهم ویجاړونکې اغېزه لري. د مجازاتو د نشتوالي او د معافیت چاپېریال دا مفکوره پیاوړې کړې چې جرم او د واک څخه ناوړه کار اخیستل د منلو وړ دي. کوسټا ریکا د ملکي قربانیانو د شمېر د زیاتوالي په اړه هم اندیښنه لري په ځانګړي ډول هغه کسان چې له بده مرغه د نړیوالو ځواکونو د ناکامو عملیاتو له امله وژل شوي دي.

هغه وویل چې حکومت او نړیواله ټولنه باید په ګډه د خوراکي توکو د بحران له ګواښ سره په بیړنۍ توګه مقابله وکړي. د دې ګواښ په کمولو کې مرسته به نه یوازې بشري هدف ولري، بلکې ستراتیژیک اهمیت به هم ولري. په هېواد کې د مثبتو پرمختګونو له جملې څخه د نشه یي توکو پر وړاندې په مبارزه کې بریاوې او د ۲۰۰۱ کال راهیسې د ناخالص کورني تولید درې چنده زیاتوالی د یادولو وړ دي.

هغه پوښتنه وکړه چې ولې ځانګړی استازی فکر کوي چې د کورنیو چارو او کرنې په وزارتونو کې وروستي سیاسي بدلونونه مثبت پرمختګونه ګڼل کیږي. کوم خنډونو د یوناما د بشري هڅو د ښه همغږۍ مخه نیولې ده، او ولې د ناخالص کورني تولید درې چنده زیاتوالي د فقر په کمولو کې مرسته نه ده کړې؟

د امنیت شورا رییس لیو ژینمین (چین)، چې د خپل هیواد په استازیتوب یې خبرې کول ووېل، چې هغه د یوناما له رول او په پاریس کنفرانس کې له جوړو شویو ستراتیژیو څخه ملاتړ کوي. نړیواله ټولنه باید د امنیتي ستونزو د حل لپاره د افغانستان د خپلو هڅو سره د مرستې په برخه کې لا زیاتې هڅې وکړي، چې په دې کې د امنیتي سکتور پیاوړتیا، د پخلاینې هڅول او د ملکي تلفاتو کمول شامل دي. یوناما او ایساف باید په راتلونکو ټاکنو کې مرستې ته لومړیتوب ورکړي. نړیواله ټولنه باید په بشري برخه کې خپلو ژمنو ته هم وفاداره پاتې شي. چین ژمنه وکړه چې په ټولو یادو برخو کې به خپلو مرستو ته دوام ورکړي.

نیروپام سین (هند) د طالبانو او القاعدې له شتون څخه پاکو شویو سیمو کې د بریدونو د زیاتوالي او همدارنګه پر ملکي وګړو، بشري کارکوونکو، د ملګرو ملتونو پر کاروانونو او ډیپلوماټیکو استازو باندې د بریدونو په اړوند ژوره اندېښنه څرګنده کړه. هغه طالبان، القاعده او د هغوی ملاتړي د تاوتریخوالي او د مرګ ژوبلې د زیاتوالي اصلي مسؤلین وبلل. خو هغه ووېل چې د ځواکونو د "حکومت ضد" یا "حکومت پلوه" په توګه پېژندل ورته د منلو وړ نه دی، ځکه چې دا کار د ترهګرو او د نظم ساتونکو ځواکونو ترمنځ د مساوي حیثیت د قایلېدو په معنا ده.

هغه ووېل چې په افغانستان کې د بریا لپاره یوازینۍ لاره د یوې درې اړخیزې ستراتیژۍ پر سر په ګډه کار کول دی. د امنیت ټینګښت، چې د سولې د رامنځته کېدو زمینه برابروي، باید په لومړنی ګام کې وي. په افغانستان کې روان بحران کلک او پریکنده اقداماتو ته اړتیا درلوده، لکه د طالبانو د جګړې پر وړتیا، د هغوی د خوندي پټنځایونو پر ساتلو او مالي سرچینو او وسلو ته د هغوی پر لاسرسي باندې اغېزه کولای شواي. دې کار د افغانستان له پولو هاخوا د سیاسي او نظامي هڅو پراخې همغږۍ ته اړتیا درلوده، ترڅو د طالبانو د کمزوري کولو او بې ثباته کولو پروسه په بشپړه توګه پلې شوي وای. هغه ووېل چې د جون په میاشت کې د پاریس په کنفرانس کې د افغانستان د ملي پراختیایي ستراتیژۍ په تصویب سره یوه روښانه لار نخشه رامنځته شوه. امنیت شورا باید په پام کې ولري چې د دې ستراتیژۍ د بریالي پلي کېدو لپاره سرچینو ته اړتیا ده. د افغانستان د ثبات لپاره د سیمه ایزې همکارۍ پیاوړتیا هم خورا اړینه ده. په دې کې د سویلي آسیا د سیمه ایزې همکارۍ ټولنه (سارک) او د شانګهای د همکارۍ سازمان غړیتوب شامل دي، خو دا یوازې په همدې مواردو پورې محدود نه دي.

هغه ووېل چې د امنیت شورا باید له "ډېرو زیاتو تمو" څخه ډډه وکړي او داسې ټولنیز-اقتصادي ماډلونه تحمیل نه کړي چې د افغانستان له ځانګړي اوسني او تېر تاریخ سره سمون ونه لري. د افغانستان ستونزې په یوځل نه شي حل کېدای خو د صبر، استقامت او د افغانانو په مشرۍ د پروسې له لارې به د ثبات په لور پرمختګ ترسره شي.

یوکیو تاکاسو (جاپان) ووېل، که څه هم هغه په افغانستان کې د وضعیت په اړه د سرمنشي له ارزونې سره موافق دی، خو په تېرو اوو کلونو کې یې د دولت جوړونې په ډګر کې د پام وړ هڅې هم ومنلې. د افغانستان د حکومت او خلکو د "کلکو هڅو" او د نړیوالې ټولنې د ملاتړ په پایله کې، وضعیت بدلون موندلای شي. د امنیت وضعیت خورا د اندېښنې وړ دی، ځکه چې یاغیانو د غیر متناسبو بریدونو کارول زیات کړي دي چې له امله یې د ملکي تلفاتو شمېر لوړ شوی دی. جاپان له دې امله ژوره اندېښنه لري چې بشري کارکوونکي د بریدونو هدف ګرځېدلي او د هغو بې ګناه خلکو پر وړاندې هر ډول بریدونه وغندل چې په رښتینې توګه یې له خپل هېواد سره مرسته کوله.

هغه وویل چې د افغان امنیتي ځواکونو د پیاوړتیا لپاره بیړنۍ هڅو تهاړتیا ده، او د جاپان هېواد د ملي اردو د پراختیا په اړه د "ګډې همغږۍ او څارنې د بورډ" له پرېکړې څخه بشپړ ملاتړ څرګند کړ. د پولیسو او کورنیو چارو وزارت په برخه کې باید اصلاحات ګړندي شي، او جاپان د "افغانستان لپاره د قانون او نظم د باور صندوق" له لارې د پولیسو د معاشونو لپاره د مرستو له برابرولو څخه ملاتړ وکړ. همدارنګه، د جاپان هېواد د اداری فساد ضد ژمنو د عملي کولو تمه هم څرګنده کړه. د جاپان هېواد د شورا لخوا د ۱۸۳۳ (۲۰۰۸) پرېکړه لیک له عمومی تصویب څخه هرکلی وکړ او هوډ یې څرګند کړ چې په هند سمندر کې د "تلپاتې ازادۍ عملیاتو" څخه ملاتړ وکړي.

د ناقانونه وسله والو ډلو د منحل کولو په برخه کې، هغه د پرمختګ د ګړندي کولو پر اړتیا ټینګار وکړ او ویې ویل چې هېواد به یې د پالیسی د همغږۍ له لارې د حکومت د ملاتړ لپاره خپله ټوله هڅه ترسره کړي. د نشه یي توکو پر وړاندې مبارزه هم یوه لومړیتوب لرونکې مسله ده، او د جاپان هېواد د هغو اقداماتو د ارزولو غوښتنه وکړه چې د یاغیانو او د نشه یي توکو د تولید او قاچاق ترمنځ اړیکه پرې کولاي شي. د بیارغونې او پراختیا په برخه کې، د جاپان هېواد د ګډې همغږۍ او څارنې د بورډ د پرېکړو د پروسې د ساده کولو او منظمولو هرکلی وکړ، خو د نړیوالو ژمنو او تعهدونو د عملي کولو غوښتنه یې وکړه.

هغه وویل چې په ۲۰۰۹ او ۲۰۱۰ کلونو کې د ټاکنو ترسره کېدل او بریالیتوب یې د ملت جوړونې د هڅو د پیاوړتیا لپاره حیاتي دي، او حکومت او نړیواله ټولنه باید د هغو د خپلواک او عادلانه ترسره کېدو د ډاډ ترلاسه کولو لپاره خپلې تیارۍ بشپړې کړي. د جاپان هېواد د افغانستان او پاکستان ترمنځ سرحدي سیمو کې مرستو ته لومړیتوب ورکړ، چې پکې د "اته ګروپ" (G8) د نوښت تعقیب هم شامل دی. په افغانستان کې ټولنیز او اقتصادي ثبات ته رسېدل یوه نړیواله هڅه وه، او په دې برخه کې د یوناما رول تر بل هر وخت ډېر مهم دی.

محمد خزاعي (ایران) وویل چې د افغانستان په ځینو برخو کې د جنایي او ترهګریزو ډلو له لوري د ترهګریزو بریدونو زیاتوالی، چې له پراخې نشه یي توکو د سوداګرۍ سره یوځای شوي دي، جدي ننګونې رامنځته کړې دي. د ترهګرۍ له امله د ملکي وګړو د مرګ ژوبلې زیاتوالی، چې یوه برخه یې د نړیوالو ځواکونو له کړنو څخه هم سرچینه اخلي، د اندېښنې وړ موضوع ده. یوازې په نظامي عملیاتو باندې تکیه کولو سره د افغان ولس زړونه او باور نه شي ترلاسه کېدای. همدارنګه، د هغو افراطي او ترهګرو ډلو د خوشحالولو یا پخلاینې هڅې هم پایله نه ورکوي چې د هېواد د ښېرته نیولو پرته په بل هیڅ شي نه راضي کېږي. پرځای یې، دا موخه هغه وخت ترلاسه کېدای شي چې عام افغانان د بېلابېلو برخو لکه د زیربناوو بیارغونه، د ظرفیت لوړونه، پوهنه او پرمختګ له لارې په خپلو ورځنیو چارو کې د نړیوالو مرستو اغېزې احساس کړي.

هغه ټینګار وکړ چې په دې وروستیو کې د نا امنۍ زیاتیدل ښیي چې د ځینو افراطي او ترهګرو ډلو د خوشحالولو هڅې معکوسه پایله لري. د افغانستان ملي اردو او پولیس باید په جدي توګه پیاوړي شي او د امنیتي ځواکونو بشپړ ملي واک ته د چارو د سپارلو بهیر باید ګړندی شي. په دې لاره کې یو مهم ګام به ملي ځواکونو ته د امنیتي مسؤلیت سپارل وي. د کوکنارو حاصلات زیات شوي او د نشه یي توکو تولید او قاچاق بې له ځنډه دوام لري. د دې ګواښ کچه د افغانستان او نړیوالې ټولنې لخوا د لا ډېرو پریکنده او همغږه شوي هڅو غوښتنه کوي.

هغه ووېل، خو دا څرګنده ده چې د افغانستان حکومت او خلک لاهم خپله هغه کلکه اراده ښيي چې د خپلو ستونزو پر وړاندې سر ټيټ نه کړي او د يوه باثباته، سوکاله او ډیموکراتیک افغانستان لپاره کار وکړي. هغوی د نړيوالې ټولنې ملاتړ ته اړتيا لري، او ايران او همدارنګه نور ګاونډي هېوادونه په يوه خوندي، باثباته او سوکاله افغانستان کې حياتي ګټې لري. په تېرو شپږو کلونو کې، ايران د افغانستان په بيارغونه کې له ۳۰۰ مليون ډالرو څخه ډېر لګښت کړی دی. په تېرو دريېو لسيزو کې، ايران له ۳ ميليون څخه زياتو افغانانو ته کورېتوب چمتو کړی دی. اوس مهال، ۹۵۰ زره افغان کډوال په ايران کې ثبت شوي او تر يو ميليون زيات نور افغانان په ناقانونه توګه په دغه هېواد کې ژوند کوي. هيله ده چې نړيواله ټولنه د بېرته راستنېدو په بهير کې مرسته وکړي او د داسې شرايطو په رامنځته کولو کې همکاري وکړي چې په مناسب وخت کې د هغوی داوطلبانه راستنېدل اسانه کړي.

فاروق عامل (پاکستان) ووېل چې د افغانستان د ننګونو لپاره کومه چټکه او اسانه حل لاره نشته او د دې ستونزو د هواري لپاره د نړيوالې ټولنې دوامداره ښکېلتيا اړينه ده. د پخلاينې، امنيت، نشه يي توکو، حکومتولۍ او پراختيا په برخو کې د پاتې پېچلو مسلو د حل لپاره يوې داسې هر اړخيزې ستراتيژۍ ته اړتيا ده چې د افغانانو په مالکيت او رهبرۍ پرمخ يوړل شي. د امنيت په اړه، هغه ووېل چې د ملګرو ملتونو د سرمنشي په راپور کې د پولو اړوند مسلو په اړه يو محدود او ناسم ليد وړاندې شوی دی، هغه هيله څرګنده کړه چې په راتلونکي کې به په دې برخه کې لازمه پاملرنه او احتياط څخه کار واخيستل شي. هغه زياته کړه چې امنيت بايد په ټولو اړخونو کې وڅېړل شي، چې پکې د طالبانو د بغاوت، القاعدې، د سيمه ايزو وسله والو قوماندانانو د پاتې شونو، ډله ايزو سياليو، جنايي او نورو ناقانونه وسله والو ډلو ګواښونه او همدارنګه له نشه يي توکو سره د هغوی مخ پر زياتيدونکې اړيکه شامله دي. سربېره پردې، امنيت له پخلاينې، ښې حکومتولۍ، پراختيا او بيارغونې په څير پراخو مسلو څخه جلا نه شي ګڼل کيدای.

هغه ووېل چې يوناما په نړيوالو هڅو کې مرکزي رول لري او دنده يې يوازې د وضعيت په اړه د راپور ورکولو څخه خورا پراخه ده. په دې برخه کې، دا به ګټور وي چې راپور د هغو اقداماتو په اړه نور وضاحت ورکړي چې دغه ماموريت د خپلې عمومي همغږۍ د رول د ترسره کولو لپاره ترسره کړي دي، ترڅو د لا پياوړي او پايلې لرونکي ملاتړ پروسه اسانه کړي.

هغه زياته کړه چې د خپلو افغان ورونو پرته، هيڅ يو بل هيواد يا ملت په افغانستان کې د لسيزو بې ثباتۍ له مستقيمو پايلو څخه د پاکستان په پرتله ډېر زيان نه دی ليدلی. سوله به پاکستان ته دا وړتيا ورکړي چې په خپلو سرحدي سيمو کې ثبات او ارامي راولي، د پاتې افغان کډوالو باعزته راستنيدنه ممکنه کړي او دواړو هيوادونو ته اجازه ورکړي چې د سيمه ايزې سوداګرۍ او انرژۍ د رسولو د مرکز په توګه کار وکړي.

له بده مرغه، د ترهګرۍ ضد مبارزه کې د پاکستان د رول له امله، د دغه هېواد امنيتي وضعيت خورا خراب شوی دی. د پاکستان نوی ډیموکراتیک حکومت د ترهګرو پر وړاندې د مبارزې او له منځه وړلو په برخه کې ملي اجماع ته د رسېدو په حال کې دی، دوی يوه نوې او هراړخيزه تګلاره تعقيبوله چې پکې سياسي خبرې اترې او ټولنيز-اقتصادي اقدامات شامل وو، خو د اړتيا پر مهال د ځواک کارولو اختيار يې هم ځان ته خوندي ساتلی دی.

هغه ووېل چې هېواد يې له افغانستان او نړيوالو ځواکونو سره د ترهګرۍ د ماتولو لپاره ګډ کار ته ژمن دی، خو د دواړو هېوادونو د حاکميت او ځمکنۍ بشپړتيا ته د درناوي او ښه نيت پر بنسټ د متقابلې همکارۍ هيله لري. هغه ټينګار وکړ چې هېڅ بهرني ځواک ته

به اجازه ورنکړل شي چې د پاکستان دننه عملیات ترسره کړي. دا ډول کړنې د ترهګرو د ګواښ په له منځه وړلو کې ګټورې نه وې، بلکې په حقیقت کې د هغوی د پیاوړتیا لامل کېداې شي. له بلې خوا، هغه د افغانستان او پاکستان ترمنځ د خبرو اترو او همکارۍ د لارو د پیاوړتیا لپاره د روانو هڅو هرکلی وکړ. دواړو خواوې لا دمخه په بېلابېلو برخو کې د هراړخیزې ښکېلتیا پر سر هوکړه کړې ده، چې پکې سیاسي، نظامي، استخباراتي او اقتصادي همکاري شامله ده.

پیټ ډي کلرک (هالنډ)، چې د یو مرستندوی هېواد په توګه یې ملاتړ څرګند کړ، وویل، په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د هڅو له امله ژوره قدرداني کوي او د یوناما د پیاوړتیا او پراختیا هرکلی کوي. هغه د هېواد په ځینو برخو کې د امنیتي وضعیت د خرابېدو په اړه خپله اندېښنه شریکه کړه، ځکه چې طالبانو پر حکومتي او مرستندویه کارکوونکو باندې بریدونه زیات کړي دي. د دې ستونزې لپاره هېڅ چټک حل نشته، او د یوه باثباته او له ترهګرۍ څخه د پاک افغانستان اوږدمهاله موخه باید د لنډمهاله امنیتي لاسته راوړنو په بدل کې سودا نه شي.

د طالبانو پر وړاندې تر ټولو پیاوړې وسله یوه ملکي اداره ده: یو وړ او باکفایته افغان حکومت چې د خلکو ترمنځ اعتبار ولري. هغه وویل چې حکومت باید د اداري فساد او ناقانوني فعالیتونو پر وړاندې مبارزه کې او همدارنګه د وړتیا پر بنسټ د چارواکو په ګمارلو کې خپلې هڅې لا ګړندۍ کړي. د راتلونکی کال ټاکنې یوه "حیاتي ازموینه" ده چې هېواد به ناکامۍ و نه زغملای شي، او هغه غوښتنه وکړه چې ډاډ ترلاسه شي ټاکنې په خوندي چاپېریال کې ترسره کېږي او افغان امنیتي ځواکونه پکې مخکښ رول لري. افغان پوځ مسلکي دنده ترسره کوله او هغه هیله درلوده چې د پولیسو په ځواک کې هم ورته پرمختګونه ووینې. هغه وویل چې د امنیت په برخه کې لا ډېر پرمختګ ته اړتیا ده، په ځانګړې توګه د ټاکنو او د حکومت لخوا د لومړنیو خدماتو لکه روغتیایي پاملرنې، پوهنې او ښه زیربناوو د وړاندې کول لا پسې زیات کړي. دا ډول اقدامات به د افغان ولس سره د باور په پیاوړتیا او د هیواد په لا زیات ثبات کې مرسته وکړي.

توماس ماتوسک (جرمني)، چې د اروپایي ټولنې له دریځ سره یې خپل همغږي څرګند کړ، وویل چې دا خورا اړینه ده چې افغانان د حکومت او نړیوالې ټولنې لخوا د بیارغونې د هڅو پایلې په عملي بڼه احساس کړي. د پاریس د ژمنو عملي سیاسي اقداماتو ته د بدلولو بهیر باید ګړندی شي. سره له دې چې افغانستان له سترو ننګونو سره مخ دی، خو دا باید هیر نشي چې یوازې اووه کاله وړاندې خلکو لومړنیو روغتیایي خدماتو ته لاسرسی نه درلود. د هغوی بشري حقونه تر پښو لاندې کیدل او ښځې له زده کړو یا دولتي دندو څخه بې برخې وې. له همدې امله، باید د نړیوالې ټولنې په ملاتړ د هیواد لاسته راوړنې وستایل شي. په ۲۰۰۹ او ۲۰۱۰ کلونو کې راتلونکې ټاکنې به د یوه باثباته او ډیموکراتیک افغانستان په لور یو مهم ګام وي.

هغه د حکومتولۍ په ټولو اړخونو کې د افغانانو د مالکیت د زیاتولو له مفکورې څخه خپل کلک ملاتړ څرګند کړ او ویې ویل چې د حکومتولۍ د ښه کولو او د اداری فساد پر وړاندې د مبارزې د ګړندي کولو لپاره د حکومت لخوا لا زیاتو هڅو ته اړتیا ده. حکومت باید د تروریزم او همدارنګه د نشه یي توکو د تولید او قاچاق پر وړاندې په مبارزه کې پرېکنده ګامونه پورته کړي. د بشري حقونو د وضعیت د ښه کولو لپاره باید د عدلي او قضایي سکتور اصلاحاتو ته دوام ورکړي. جرمني د نړیوالو او ملکي هڅو په همغږۍ کې د یوناما د مخکښ رول هرکلی وکړ او د دې ماموریت د دندو د ترسره کولو لپاره یې د کافي سرچینو پر اړتیا ټینګار وکړ.

هغه افغانستان سره د خپل هېواد د پوځي او مالي مرستو په اړه د خبرو پر مهال وویل چې هېواد یې چمتو دی د الماني پولیسو شمېر دوه چنده کړي او د خوراکي توکو د بحران په رڼا کې یې د یوناما د بشردوستانه ظرفیت د لوړولو لپاره اضافي مالي مرستې ځانګړې کړې دي. المان د ملکي تلفاتو د شمېر په اړه ژوره اندېښنه څرګنده کړه، کوم چې تر ډېره حده د طالبانو او د هغوی د متحدینو لخوا د تاوتریخوالي او ترهګریزو فعالیتونو د زیاتوالي له امله رامنځته شوي دي. ایساف د ناځاپي ملکي تلفاتو د خطر کمولو په موخه ګامونه پورته کړي او د عملیاتو وروسته د ارزونې کړنلارې یې رامنځته کړې دې.

مورټن ویټلینډ (ناروې) وویل چې هېواد یې د افغانستان د بیارغونې لپاره بشپړ ژمن دی. د ناروې هېواد د افغانستان د ملي پراختیا ستراتیژۍ لپاره د ۵۰۰ میلیون یورو مرستې ژمنه کړې ده، چې له مخې یې افغانستان د ناروې د هېواد د مرستو تر ټولو لوی ترلاسه کوونکی هېواد ګرځېدلی دی. هغه په افغانستان کې د پرمختګونو په اړه د "منفي راپور ورکولو" له امله اندېښنه څرګنده کړه او ټینګار یې وکړ چې باید د "ماتې او زوال د ژبې په کارولو" سره په سیمه کې د سرتېرو، مرستندویه کارکوونکو او نورو خلکو ترمنځ د ستړیا او ناهیلۍ احساس رامنځته نه شي. پرځای یې، باید د امنیتي وضعیت په ښه والي او "جزیاتو" باندې تمرکز وشي. د افغانستان ټولې سیمې په مساوي توګه له ستونزو سره مخ نه دی. سرګال درې پر څلورمه برخه امنیتي پېښې د هېواد په هغو برخو کې رامنځته شوې دې چې یوازې ۶ سلنه نفوس پکې ژوند کوي.

هغه وویل چې ملګري ملتونه، په ځانګړې توګه د ملګرو ملتونو د پراختیایي پروګرام له افغان چارواکو سره د ټاکنو لپاره د چمتووالي په برخه کې مهم کار ترسره کوي. اوس باید اصلي لومړیتوب د رایې ورکوونکو د نوم لیکنې په برخه کې مرسته چمتو کول دي، چې پکې د ټاکنو په اړه معلومات ورکول او د ټولو خلکو، په ځانګړې توګه د ښځو لپاره د رایې ورکولو د پروسې خوندي کول شامل دي. ټاکنې باید د پلان سره سم ترسره شي ترڅو وښودل شي چې طالبان خپل نفوذ له لاسه ورکوي. هغه مرستندویان چې په پاریس کې یې له افغانستان سره د مرستې ژمنه کړې دي، باید خپلو ژمنو ته وفادار پاتې شي، هرڅوک باید په منظمو وقفو کې ځواب ویونکي وي، او افغان حکومت هم، چې د اداری فساد او نشه یي توکو پر وړاندې د مبارزې ژمنه یې کړې ده، باید حساب ورکولو ته اړ ایستل شي.

هغه وویل چې په افغانستان کې د یوې کوچنۍ او مسلکي ملګرو ملتونو ادارې د جوړولو لپاره د ځانګړي استازي "کای اید" د هڅو په ورو کولو سره باید وخت ضایع نه شي. نړیواله ټولنه جدي مسؤلیت لري چې د هغه ملاتړ ته دوام ورکړي. په افغانستان کې د ګډو هڅو د بریالیتوب لپاره دا خورا مهمه ده چې یوناما د دندې ترسره کولو لپاره اړینې سرچینې او کافي او اهل پرسونل ولري. دا یوازینۍ لاره ده چې یوناما  وکولای شي خپل پیاوړې شوی ماموریت ترسره کړي او لوړې هیلې پوره کړي. هغه له غړو هیوادونو او سکرتریت څخه وغوښتل چې د افغانستان په بیارغونه کې د یوناما او ښاغلي ایډې ملاتړ وکړي.

ځانګړي استازي ایډې، د بحث پر مهال د مطرح شویو پوښتنو په ځواب کې وویل چې په افغانستان کې سیاسي بدلونونه په پراخه کچه ستایل شوي دي. د همغږۍ په اړه، هغه بیا ټینګار وکړ چې یوناما یوه کوچنۍ او زیان منونکې ډله ده چې ننګونې یې په دې وروستیو کې خورا زیاتې شوې دي. یوازې په همدې کال کې ورته نوي ماموریتونه سپارل شوي، خو د هغو سرچینو او کارکوونکو د برابرولو لپاره چې د ۲۰۰۸ کال په مارچ کې یې پرېکړه شوې وه، د ۲۰۰۹ کال تر می یا جون میاشتې پورې وخت ته اړتیا ده؛ یعنې د ماموریت د پراختیا او د سرچینو د زیاتوالي ترمنځ واټن شتون لري.

هغه امنیت شورا ته یادونه وکړه چې په افغانستان کې د پیچلي وضعیت لپاره کومه چټکه حل لاره نشته. د همغږۍ لپاره میکانیزمونه تر کار لاندې دي، خو دغه کار یو څه وخت نیسي. هغه د دې هوکړې په لیدو خوښ و چې باید منفي چلندونه بدل شي، همدارنګه د هغه نوي ټیم لپاره د ملاتړ ژمنې واورېدل چې ولسمشر کرزي اوس ټاکلی او د هغه د لومړیتوبونو ملاتړ، د هغه لپاره د خوښۍ وړ دي دغو ټولو لومړیتوبونو د کلیدي مرستندویانو ملاتړ ته اړتیا درلوده، نو اوس باید ولیدل شي چې ایا اغېزمن ګامونه به پورته شي او که نه.

* * *

*د رسنیو د معلوماتو لپاره • رسمي سند نه دی*